# وسله والو ترهګرو په فراه کې د نجونو ۲ ښوونځي ویجاړ کړي

د فراه ولایتي چارواکي او ولسي استازي وايي چې نامعلومو وسله والو د دغه ولایت د مرکز په لمنو کې د نجونو دوه ښوونځي ویجاړ کړل. د فراه د ولایتي شورا رییس شاه محمود نعیمي رسنیو ته وویل، د نجونو یوه لیسه د دوشنبې په شپه د مرکز فراه په لمنه کې په بمونو والوزول شوه. نعیمي وايي چې د دې لیسې مدیرې ته مخکې تر مخکې خبرداری ورکړای شوی و. د فراه د ولایتي شورا یو غړي دادالله قانع وویل چې ویجاړه شوې لیسه د ولایت له مرکزه نږدې ۲۰ کیلومتره لرې وه. تر دې یوه شپه وړاندې د فراه ولایت د مرکز په لمنه کې د نجونو یو بل ښوونځی د نامعلومو وسله والو له لورې ویجاړ شوی و. د فراه ولایتي چارواکي او د سیمې اوسېدونکي باور لري چې دواړه ښوونځي طالبانو ویجاړ کړي دي، خو طالبانو د دغو حملو مسوولیت په غاړه نه دی اخیستی. طالبانو په تېرو کلونو کې بې شمېره ښوونځي ویجاړ کړي، خو په وروستیو څو کلونو کې یې د ښوونځیو د ویجاړولو مسوولیت په غاړه نه اخلي او حتی تر لوړ پو... ۷ مخ

Ketabton.com

# ...ي د سیلابونو د زیانونو د مخنیوي لاربښوونې وکړې

...ستیو سیلابونو په اړه وویل، د ټولو حلکو غوښتنه ده چې د کابل سیند حریم باید مشخص او له غاصبینو واخیستل شي

...ې پلان نه اړتیا ده او ټولې اړوندې اداري دې په همغږۍ پر دغه پلان کار وکړي، چې په ښېرو میاشتو کې د کابل په سیند کې محسوس تغییر رامنځته شي

...ستن د ... اره غوښتی ورم ماښام په ارګ کې جوړه ... هغوی سره د حکومت د تعدي او

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**